AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲/۱۰/۱۰

# نور دي روان،
# موږ ځای پر ځای یو ولاړ



اوبه مخکته، موږ په بره روان
یو ښه غافل، نور با خبره روان

ټوله نړۍ د ښه ژوند هڅه کوي
موږه ړانده او بې بصره روان

نور دي روان، موږ ځای پر ځای یو ولاړ
د محشر چورت کې تر محشره روان

موږ بې خبره له هر څه یو تر نن
نور دي ښه پوه او ښه بهتره روان

رڼا تیارو کې یو له ډار سره مل
خلک دي پوه، ښه دلاوره روان

که په لاس واخلو څو ډیوې د پوهې
یو به تر نورو پُر ثمره روان

۲۰۲۰/۰۸/۰۴
هېدر سلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ